بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارات
د لوړو زده کړو وزارت
تابیش پوهنتون
د ژورنالیزم پوهنځی

محمدالیاس ازره وال

**موضوع : د ازري ولسوالۍ په اړه معلومات**

**لیکوال : سمیع الله صمیم**

**(PDF) : محمد الیاس ازره وال**

غواړم د لوگر ولاپت په اړه هم لنډ معلومات وړاندې کړم .

لوگر ولایت د افغانستان  له ۳۴ ولایتونو څخه یو ولایت ده چې دغه ولایت په ټوله کې په (٦)  ولسوالیو تقسیم شوی ده چې عبارت دي
ازره ، برک برک ، چرخ ، خروار ، خوشی ، محمد اغه ،

د لوگر ولا یت زیاتره وگړي په پښتو او فارسي ژبو خبرې کوي . د لوگر ولایت مرکز پل عالم ده لوگر د کابل سوېل ته په ٦۵ کیلو متری کې پروت ده شمال ته یې کابل ، سوېل ته یې پکتیا ، ختیځ ته یې ننگرهار ، او لو ېدیځ ته میدان وردگ ولایتونه پرا ته دي لوگر ټو ټل (۴۵٦۸۰۰)کیلو متره مساحت په دغه ولایت کې مېشت قومونه عبارت دي له ، احمدزي ، ستانکزي ، عبدالرحیمزي ، تاجکان ، خواجگان ، ناصر ، وردگ ، مسعود ، وزیر ، نایب خېل ، اورمړ ، او کوچیان پراته دي . لوگر ولایت تر ( ۱۳۴۳) کاله پورې د کابل ولایت برخه وو له همدې کال وروسته په یو جلا ولاَیت ونمول شو . لوگر ولا یت تکریبنَ (٦۵۷) کلي لري . په د غه ولا یت کې ټوټال (۲۵۹) ښوونځي لري د دې له برخې څخه (٦۷) یې لېسې (۷۳) یې منځنی او پاتې نور یې لومړني ښوونځي دي . په لوگر کې اوسمهال (۱۳۳۸۵۵) زده کونکي ښونځیو کې په زده کړو بوخت دي . چې د دې له جملې څخه  (۴۰۸۳٦) یې انجونې دي او پاتې یې هلکان دي . د دې

**تر څنګ په دغه ولایت کې (۱۹) مدرسې هم شتون لري په دغو مدرسو کې کم تر کمه (۳۱۵۳) انجونې په زدکړو بوختې دي. لوګر د صنعت په برخه کې د پام وړ څه نلري .**

**نور نه غواړم چې په لوګر ولایت بحث وکړم ډاریک راځم خپلې اصلي موضوع ته که په لوګر وغږېږم یو څه وخت نور هم نیسي راځم د لوګر ولایت ازرې ولسوالۍ ته .**

محمدالیاس ازره وال

**د لوګر ولایت ازره ولسوالی !**








**د ازرې ولسوالۍ تصویران !**

ازره ولسوالۍ د لوګر ولایت له شپږو ولسوالیو څخه یوه غرنۍ او سرحدي ولسوالۍ ده . دا سیمه د سپین غره په لمن کې پرته ده او له ګڼو درو څخه جوړه شوې ده هره دره یې له مرکزي درې سره یو ځای کیږي . او په لږه زیاته اندازه اوبه هم لري ، چې یو کوچنی سیند یې جوړ کړی دي . دا سیند په ازره کې دوه مهم مرستیالان سیندونه لري . لومړی د کڅ یا زاړندې سیند چې له (۳٦٧١) مترو لوړوالي څخه سرچینه اخلي . دوهم د منګل درې سیند چې له دوو غاښونو نه سرچینه اخلي د دغه سیند ځینې مهمې سرچینې . د کاکا کنډو د حوض خاص جهیل چې له (۴۴۹۳) متره لوړوالي څخه سرچینه اخلي . دوهم د لکړۍ کنډو چې د شوترګردان په نوم هم یادیږي او له (۳۷۲۰) متره لوړوالي څخه سرچینه اخلي . دا اوبه د منګل له شنې او سرسبزې درې څخه تیریږي او د منزوام په سیمه کې له مرکزي سیند سره یو ځای کیږي له دې وروسته د تنګي له درې څخه په تیریدو د ناور په سیمه کې د ننګرهار ولایت حصارک ولسوالۍ ته ننوځي ، دلته د حصارک ولسوالۍ ډېرې زراعتي ځمکې خړوبوي ، وروسته د درونټې له بند څخه لږ ښکته د سرخود ولسوالۍ د سیند په نوم د کابل سیند سره یو ځای کیږي .

## دوهمه برخه اقليم

د ازرې ولسوالۍ نيم اقليم لري او ځمکې يې يو فصله دي . د ازرې ولسوالۍ تر ټولو لوړه نقطه د جرمتو تنګي په ورروستۍ برخه کې ده چې د لوګر پکتيا ، ننګرهار ، او پاکستان تر منځ واقع ده د ازرې ولسوالۍ په دې ځای کې له پاکستان سره سرحد هم لري چې اوږدوالی يې( ۴,۷۵) کيلومتره دې او ارتقاع يې (۴۴۹۳) متره ده ، د يادې ولسوالۍ( ۲۴۰۰) متره ښودل شوې ده ازره د مرکز پل علم څخه (۹۰) کيلو متره لمر خاته پر لور پرته ده .

### د ازرې ولسوالۍ څلور خواوې !

د ازرې ولســوالۍ په لاندې ســيمو او ولايتونو پورې پوله لري : ختيځ او شــمال ختيځ ته د ننګرهار ولايت سره کډه پوله لري ، شــمال ته د کابل ولايت خاک جبار د ننګرهار ولايت حصــارک او د لوګر ولايت د محمد اغه

ولســـوالۍ (د عینک کان ســـیمه ) موقعت لري ، لویدیځ ته د لوګر ولایت محمداغې ولسوالۍ ، سرخاب دره ،او خوشي ولسوالۍ ، د دوبندي سیمه موقعت لري ، جنوب لویدیځ ته : د پکتیا ولایت زرګل تنګي ، احمد ابا او ، مچلغو ســـیمې موقعت لري ، جنوب ته یې د پکتیا ولایت د احمد خیلو ، علي خېلو ، کټه سنګ ، خرلوټه ، خرچتل ، کلي او د ماټونګې غر قرار لري : جنوب ختیځ ته ، منډیر کړکې مرمۍ کنډو ته نږدې د کورمې ایجنســـۍ سره (۴,۷۵) کیلو متره سرحد لري .

د ازرې ولسوالۍ د نوم په اړه

پخوا د ازرې ولسوالۍ د کابل ولایت اړوند سیمه وه . وروسته د پکتیا ولایت یوه ولسوالۍ وګرځېدله کله چې په (۱۳۴۷) کال کې لوګر ولایت رامنځته شو نو څه موده وروسته ازره هم په لوګر پورې وتړل شوه .

**د ازرې ولسوالۍ ته د ازرې نوم د ورکړې لامل**

**د ازرې ولسوالۍ په اړه دوه نظریات موجود دي .**

محمدالیاس ازره وال

د اسلام له راتګ څخه مخکې په افغانستان کې کابل ولایت ته نږدې یو لرغونی ښار موجود وو . د دې ښار د موقعیت په اړه بیلا بیلې حوالې شته ځینې خلک یې په لوګر ولایت کې د خوشي او خروار ولسوالۍ کې ، او ځینې یې د مس عینک ترڅنګ د ځمکې لاندې ښار بولي شفاهي روایتونه وایي چې د دې ښار پاچا هېڅ زوی نه درلوده بلکې درې لوڼې (شهزادګۍ) یې درلودې چې په ، **تېره** ، **میرزکه** ، **او ، ازره** ، نومونو نومول شوې وې له دې امله ازره د له دې امله ازره د یوې شهزادګۍ نوم وو او دا سیمه د همدې په نوم مشهوره شوه .

## دوهم نظر د ازرې د نوم په اړه !

په (۷) پېړۍ کې کابل شاهانو دغه سیمه ستراتیژیک او نظامي اهمیت له امله د دفاع لپاره کاروله ، دوي دې سیمې ته د دفاع **وزر** نوم ورکړی وو وروسته **وزر** په **ازر** بدل شو او له هغې وروسته بیا په**ازره** مشهور شو دا وو د ازرې ولسوالۍ د نوم په اړه لنډ معلومات .

## دریمه برخه جغرافیاوي ځانګړتیاوې !

**ژبه** : د ازرې ولسوالۍ ټول خلک په یوه ژبه خبرې کوي (**پښتو**) .

**دين** : ټول اوسيدونکي يې په اسلام مبارک دين مشرف دي .

**مذهب** : د ازرې ټول اوسيدونکي د امام ابو حنيفه رحمه الله د مذهب پيروان دي او په يوه عقيده دي .

**ښه ستراتيژيک موقعت** : د دې ولسوالۍ ستراتيژيک اهميت له امله په تاريخ په بېلابېلو نومونو ياده شوې ده لکه ، باب الجهاد ، او د کابل څلورمه دروازه هم نومول شوې ، د ځينو معاصرو سياستوالو په نظر د ازرې موقعيت په افغانستان کې ځانګړې ارزښت لري دوی داسې تشبيه کوي لکه څنګه چې په انسان کې مرۍ يو خاص ځای لري که د انسان مرۍ بنده شي ، روح ترې وځي ، همداسې که له افغانستان څخه ازره ونيول شوه ، نو د هېواد روح به وځي ،

**طبيعي ځنګلونه** : د لوګر ولايت د نورو ولسواليو په پرتله ازره ولسوالۍ ډير ځنګلونه لري . او مهمې ونې يې لکه،جلغوزي، نښتر،وبښته،څيړی،منځه،څپره،....

**د ازرې په غرونو کې طبيعي خواړه هم پيدا کيږي .**

لکه : خېزې ،پښې ، ويه ، جنغوزي ،پرګي او داسې نور ،

**د دې ولسوالۍ په غرونو کې کوم ډول الوتونکي او ژوي ژوند کوي .**

**وحشي ژوي : يگه،ليوه،سورلنډى،خوگ،شادي،كيدړ،سوى،شكوڼ،په ژمي كې پړانگ، غرڅې،**

**الوتونكي : باز،مرغان،هيلى،زركان،زاڼې،چرچر،كوتره، د غره چرگه ،شارو،طوطي،مرغى،كارغه،بلبله،ملاچرگ،چتى،باښه...**

**ازره ولسوالۍ : مېوه لرونكې ونې هم لري. لكه**

**،چارمغز،منه،زردالو،څنځلې،الوچې،شفتالو،بويي،ناك،انگور،توت...**

**ازره كې نه شنې كيدونكې مېوې : لكه**

**،انار،ام،املوک،هندوانه،ختكى،انځر،الوبالو،توت زميني،امروت،كېله...**

**پاكې او روڼې اوبه : د هرې درې په اوږدو كې بهيدونكې پاكې ، روڼې ، او خوږې اوبه شتون لري . په غرونو كې يې طبي بوټي هم موندل كيږي چې د زياتره مريضانو د سلامتيا باعث كيږي . ورسره څنگ كې ښه اقليم هم لري .**

**د ازرې ولسوالۍ جغرافياوي نيمگړتياوې .**

**لومړی** : د سرک نشتوالی ، په دې ولسوالۍ کې د موټرو لپاره په معیار برابر سرکونه نشته .

**دوهم** : د برق نشتوالی : په دغه ولسوالۍ کې هېڅ بریښنا شتون نلري او خلک یې له دې اسانتیا بې برخې دي .

**دریم** : د زراعتي ځمکو کمښت د کرنې لپاره مناسبې ځمکې ډېرې کږې دي .

**څلورم** : شتمن خلک له سیمې څخه په تېښته دي .

**پینځم** : له مرکز څخه لرېوالی دا ولسوالۍ له مرکز او ولایت څخه لرې پرته ده ، چې د اسانتیاوو د کمښت لامل شوی .

**شپږم** : سیلابونه د پسرلي په لومړنیو میاشتو کې اوبه د سېلاب بڼه غوره کوي چې زارعتي ځمکې ویجاړوي او خلکو ته ګڼ شمېر مالي او ځاني زیانونه اړوي .

**اووم** : د ښوونې وروسته پاتېوالی په دې ولسوالۍ کې تعلیمي پرمختګونه شاته پاتې دي .

## { د ازرې ولسوالۍ کنډونه ! }

**د کاکا کنډو** : (۴۴۹۳) متره لوړوالی لري او ازره ولسوالۍ له ننګرهار ولایت سره وصل کوي .

**لکړی (شوترگردان ) کنډو : (۳۷۲۰) متره لوړه ارتفاع لري او ازر له پکتیا سره وصل کوي .**

**لتهٔ کورې کنډو : (۳۵۵۸)متره لوړوالی لري او ازره ولسوالی د لوګر له بلې ولسوالی سره نښلوي (خوشی)**

**عالي شېر کنډو : دا کنډو (۲۴٦۷) متره لوړوالی لري او دا کنډو هم ازره ولسوالی له ننګرهار ولایت سره وصل کوي .**

**کاکا کنډو سرک لري نور کنډونه سرکونه نه لري .**

## خلورمه برخه

### د ازرې ولسوالی قومونه !

**په ازره ولسوالی کې دوه قومونه ژوند کوي ( احمدزي )  (خروتي ) د احمدزیو ډېره برخه کوچیان دي .**

### د ازرې ولسوالی مشهور جهیل !

محمدالیاس ازره وال

**د حوص خاص جهيل :  دا جهيل د ازرې ولسوالی له مرکز څخه شل کيلو متره جنوب ختيځ لور ته پروت ده چې شکل يې د ماهي ته ورته دې .**



**خوص خاص جهيل !**

## د ازرې ولسوالۍ تاریخي تاریخي ځایونه !

**کافرناو** : دا ناو د کڅ کلي څخه لږ پورته دې ، چې په دې ځای کې د ازرې خلکو د لومړي ځل لپاره برتانوي فوځیانو ته ماتې ورکړه .

زاړندې زیارت : په دې زیارت کې افشار موجود دي چې خلک یې په اړه ډېرې نطرې لري .

په کوزه چوتره کې د **ناوې** تیره .

په منګل کلي کې (**خلقه شریفه** ) په دغه ځای کې د محمد (ص) کالي او نور مبارک څیزونه موجود دي . او داسې نور هم ډېر تاریخي ځایونه شته د اوس لپاره په همدې بسنه کوو .

محمدالیاس ازرهوال

په ازره ولسوالۍ کې د کوچیانو ژوند !

**د ازرې ولسوالۍ کوچیان د اوړي په موسم کې درې میاشتې د دې ولسوالۍ په لوړو برخو کې تېروي لکه د لکړۍ لټکورې حوص خاص جهیل او ببرو د قوم د غرونو خوا او شاه سیمو کې اوسیږي . هغه کوچیان چې د لکړۍ او حوص خاص جهیل دواړو غاړو کې د وړي درې میاشتې تیروي د ننګرهار ولایت د مومند درې ، لعل پورې ، بټې کوټ ، او د ننګرهار په نورو ولسوالیو کې د ژمي موسم تېروي دا کوچیان د احمدزیو او خروټو قوم پورې اړه هغه کوچیان چې لټکورې تورپاڼې او پچلرې په سیمه کې ژوند کوي دغه کوچیان د اوړي درې میاشتې په یادو سیمو کې تېروي او د ژمي موسم د ننګرهار په روداتو، بټې کوټ ، کامې ، کوز کنړ او مومند درې ، کې تېروي . د دې ډلې کوچیان د افغانستان په نورو ولایتونو کې هم د ژمي موسم تېروي او یوه برخه یې د اوړي موسم د خوست په ولایت کې هم تېروي . د افغانستان د ټولو کوچیانو په ژوند کې بدلون رامنځته شوی ده او د ازرې ولسوالۍ د کوچیانو په ژوند کې هم بدلون راغلی ده هغوي د اوښانو ،کچرو ، خرو، او یو شمیر نورو باروړنکو حیواناتو په ځای ټکتېر ، ششپای ، ینوه ، او نور موټر استعمالوي**

**زمونږ د ازرې او افغانستان کوچیان هر وخت د اقلیمي بدلونونو سره مخ وي ، د ازرې ولسوالۍ کوچیان په (۱۴۰۲) کال کې ډېر زیان وموند چې**

**(۱۸۰۰۰) زره پسونه مېږې او وزې يې د واورې له امله له لاسه ورکړې زيات زيان د لکړۍ حوض خاص جهيل او د ببرو د غرونو کوچيانو ته ورسيده کوچيان د پسرلي په موسم لوړو سطحو ته ځي او هلته پاتې ژوند تېروي .**

**پنځمه برخه !**

**د ازرې ولسوالۍ کلي : په ازره ولسوالۍ کې تقريباً (۳۷) کلي موجود دي ، لکه ، شاهين ، پچلره ، خروټي ، کڅ ، عثمانخېل ، ببر ، سپين جومات ، اگبرخېل ، بره چوتره ، کوزه چوتره ، جانخېل ، منگل کوز کلی ، منگل بر کلی ، رضاخېل ، داديخېل ، درکيخېل ، باغک ، د تنگي کلی ، غونډۍ ، قاسم خېل ، ادرمان خېل ، بر اگبرخېل ،کڅوال ، او داسې نور ...**

محمدالبادی ازره وال

دا وو د لوګر ولایت د ازرې ولسوالۍ په اړه لنډ معلومات چې ما درته

د (پي ،ډي ایف ) په بڼه وړاندې کړل که کوم ځای کې راڅخه تېروتنه شوي وي بخنه راته وکړئ یواځې الله ( ج) له هر څه پوره ده .

د لیکوال دې کور ودان وي چې داسې ښکلي معلومات یې راټول کړي دي واقعت کې دېر زخمت یې باسلی ده په ګوتو مو برکت شه او قلم مو همداسې تاند او راوان اوسه .


نوټ : هر کس په دې مکلف ده چې د خپلې ولسوالۍ په اړه پوره معلومات ولري .

محمدالیاس ازره وال

ایډیټ او ( پي ډي ایف ) : محمدالیاس ازر وال

لیکوال : صمیع الله صمیم








محمدالیاس ازه وال